ALBANY MED
Health System

ستاسو لومړی انتخاب.


له
17,000
څخه ډېرو
ژمنو کارکوونکو سره

له **125**
څخه ډېر ځایونه

له **100**
څخه ډېرې
تخصصي برخې

900
ډاکټران

ALBANY MEDICAL CENTER
ALBANY MEDICAL COLLEGE
COLUMBIA MEMORIAL HEALTH
GLENS FALLS HOSPITAL
SARATOGA HOSPITAL
VISITING NURSES



albanymed.org

څلور روغتونونه، یو د ماشومانو روغتون،
یو پوهنځی، او د لیدونکو نرسان (Visiting Nurses)

ALBANY MED
Health System

لومړی انتخاب
2030

لیدلوری: د **ناروغانو د تجربې**، د **کیفیت**، او **کلینیکي غوره والي** لپاره لومړی انتخاب **کېدل.**

ALBANY MED
Health System

د قانون له مخې، که تاسو کومه طبي بېړنۍ ستونزه ولرئ یا د زېږون په حال کې یاست، **تاسو حق لرئ چې** د دې روغتون د کارکوونکو او اسانتیاوو د وړتیاوو په حدودو کې لاندې خدمتونه ترلاسه کړئ:

- مناسبه طبي معاینه.
- د ناروغ د حالت د ثبات لپاره اړینه درملنه (د نا زېږېدلي ماشوم درملنه هم پکې شامله ده) او که اړتیا وي:
- بل روغتیایي مرکز ته مناسب لېږد، که څه هم تاسې د لګښتونو د ورکړې توان ونه لرئ، روغتیایي بیمه ونه لرئ، یا د Medicare یا Medicaid د خدماتو مستحق نه یاست.

مورې د Medicaid پروګرام کې ګډون کوو.

ALBANY MED
Health System

مننه چې د خپلې درملنې لپاره مو پر مورږ باور وکړ.

مورږ ډېر ویاړو چې تاسو او ستاسو کورنۍ ته هغه وخت چې تر ټولو
ډېره اړتیا ورته لرئ، د بېړنۍ پاملرنې تخصصي خدمتونه، وړاندې کوو.

ALBANY MED
Health System

مهرباني وکړئ، زموږ د اوسني ظاهري حالت له امله موږ وبښئ.

د بېړنيو روغتيايي خدمتونو څانګه (Emergency Department)
د بيارغونې په حال کې ده، څو د ناروغانو روغتيايي پاملرنه لا
ښه او د ناروغانو تجربه لا غوره شي.

ALBANY MED
Health System

د بېړنيو روغتيايي خدمتونو څانګې ته تر ننوتلو مخکې،
امنيتي کارکوونکي به ستاسو امنيتي تلاشي وکړي، څو ستاسو
او د نورو ناروغانو او کارکوونکو خوندیتوب ډاډمن کړي.

د نوم لیکنې وروسته به تاسو زمونږ د انتظار خونې ته
لارښوونه شئ، څو د ناروغانو د لومړیتوب بندی برخې
(Triage Area) ته تر بلل کېدو پورې هلته انتظار وکړئ.

ALBANY MED
Health System

کله چې مو نوم واخیستل شي، د لومړنۍ طبي ارزونې نرس به تاسو یوې خونې ته بوځي او له تاسو څخه به پوښتنه وکړي چې نن ولې دې ځای ته راغلي یاست.

دا پوښتنې له مورډ سره مرسته کوي چې ستاسو د پاملرنې لپاره راتلونکي ګامونه پورته کړو.

”زه به څنګه روغتیايي پاملرنه ترلاسه کړم؟“

که تاسو داسې طبي بېړنۍ حالت **ونه لرئ** چې سمدستي پاملرنې ته اړتیا ولري، نو بل ګام کېدای شي له تاسو څخه د ویني اخیستل یا ځینې معاینات ترسره کول وي. په دې معایناتو کې کېدای شي لاندې موارد شامل وي:

- سي ټي سکین
- ایکس-ري
- الټراساوند

ALBANY MED
Health System

”زه به دلته څومره وخت پاتې کېږم؟“

زمونږ ډله هڅه کوي چې په مناسب وخت
کې **غوره روغتیایي پاملرنه** وړاندې کړي.

ستاسو د پاتې کېدو موده په ډېرو عواملو پورې اړه لري:

- د ناروغۍ د ډېرې جدي کېدو په صورت کې نښایي نورو معایناتو ته اړتیا وي.
- لابراتواري معاینات، X-ray او پرمختللې انځوریزې معاینې، لکه CT Scan، نښایي ستاسو د ارزونې موده څو ساعته زیاته کړي.
- لکه څنګه چې مونږ نور معلومات ترلاسه کوو، نښایي نورې معاینې هم درته توصیه شي.

ALBANY MED
Health System

ALBANY MED
Health System

مورِ د بیړنیو روغتیایي خدمتونو د څانګې په بېلابېلو برخو کې ناروغانو ته پاملرنه وړاندې کوو.

د ګڼې ګونې په وختونو کې، ښایي زمورِ ډله تاسو ته زمورِ د درملنې په اصلي برخه، د لومړنۍ طبي ارزونې په برخه او حتی د انتظار په خونه کې پاملرنه وړاندې کړي.

ALBANY MED
Health System

کله چې د بیړنیو روغتیایي خدمتونو څانګه ډېره بوخته وي، نښایي له معایناتو وروسته ښېرته د انتظار خونې ته لاړ شئ.

ستاسو پاملرنه روانه ده—د معایناتو د پایلو ترلاسه کول او بیاکتنه یې وخت نیسي.

زموږ د ډلې یو غړی به له تاسو سره ستاسو د معایناتو پایلې وڅېړي، اضافي پوښتنې به درڅخه وکړي او راتلونکي ګامونه به وټاکي.

”ولې له ما څخه مخکې د نورو خلکو معاینه کېږي؟“

هغه ناروغان چې له لوړ خطر سره مخ وي یا
سمدستي، د ژوند ژغورنې پاملرنې ته اړتیا ولري، له
هغو ناروغانو مخکې به معاینه شي چې د روغ حالت د
ساتلو لپاره سمدستي طبي پاملرنې ته اړتیا نه لري.

ALBANY MED
Health System

”په داسې حال کې چې زه دلته یم، زما د پاملرنې د ډلې برخه به څوک وي؟“

- معالج ډاکټران
- تخصصي روزنیز ډاکټران
- د تخصص ډاکټران
- د طب محصلین
- د ډاکټر مرستیالان
- پرمختللي مسلکي نرسان
- ثبت شوي نرسان
- د بیړنۍ څانګې تخنیکران
- پارامیډیکان
- جواز لرونکي عملي نرسان

ALBANY MED
Health System

”زما د پاملرنې په برخه کې به نور څوک مرسته کوي؟“

- د ناروغانو د لاسرسي کارکوونکي
- د رادیولوژۍ کارکوونکي
- د لابراتوار کارکوونکي
- ټولنیز کار/د قضیو مدیریت
- فزیکي/حرفوي درملنه

ALBANY MED
Health System

ALBANY MED
Health System

مهرباني وکړئ مونږ ته خبر راکړئ که تشناب تللو ته اړتیا لرئ.

نبايي له تاسو څخه وغوښتل شي چې د ادرار نمونه مونږ ته راکړئ. د ادرار د نمونې لوښي د لومړنۍ طبي ارزونې په مېز کې شتون لري.

ALBANY MED
Health System

مورِ پوهېږو چې ښايي تاسو د ليدنې پر مهال وړي يا تږي شئ.

مهرباني وکړئ، ترخوراک يا څښاک مخکې له خپل روغتيايي ټيم يا د ناروغانو د لومړيتوب ټاکلو له ټيم سره **مشوره وکړئ.** که تاسو په دې وروستيو کې خواړه خوړلي وي، ځينې درملنې ښايي وځنډول شي.

که د بدن د اوبو د کمښت په اړه اندېښنه موجوده وي ښايي مورِ وکولای شو وريدی مايعات (intravenous fluids, IV) درکړو.

ALBANY MED
Health System

که هر وخت په تاسو کې نوې نښې پیدا شي،
یا مو اوسنۍ نښې خرابې شي، **مهرباني وکړئ زموږ**
کارکوونکو ته خبر ورکړئ.


ALBANY MED
Health System
63,000 د لويانو د
بيړنيو روغتيايي خدمتونو
څانګې ته کلنۍ مراجعه

ALBANY MED
Health System

د DAISY جایزه

د استثنایي نرسانو لپاره

غواړئ له کوم نرس څخه منه وکړئ؟

همدا نن یو نرس د DAISY جایزې لپاره ونومویئ!

د خپلې هغې تجربې کیسه راسره شریکه کړئ چې څنګه یوه نرس ستاسو یا ستاسو د یوه عزیز په پاملرنه کې مثبت بدلون راوست.

د نوماندۍ د سپارلو لپاره QR کوډ سکین کړئ.



ALBANY MED
Health System

Albany Med **ناوړه چلند یا تاوتریخوالی نه زغمي**،
چې په کې لاندې موارد شامل دي:

- ګواښوونکې ژبه
- سپکوونکې ژبه
- جنسي څرګندونې
- فزیکي تاوتریخوالی
- نامناسب لمسول

دا ډول چلندونه ښایي له دې روغتیایي مرکز څخه
ستاسو د ایستلو او/یا قانوني تعقیب سبب شي.

ALBANY MED
Health System

د بېړنۍ څانګې د لیدنې ساعتونه د ورځې 24 ساعته دي.

دا د روغتون د لیدنې له ساعتونو څخه توپیر لري او **کېدای شي بدلون ومومي**، چې د کال د وخت، ناروغیو، او د روغتیا او خوندیتوب د لارښوونو له مخې بدلون موندلی شي.

د بېړنۍ څانګې ناروغانو ته ښایي په یو وخت کې **یو یا دوه لیدونکي** اجازه ورکړل شي، چې د څانګې د وضعیت، د بستر د ځای، او د ناروغ د حالت له مخې ټاکل کېږي.



د البانې طبي مرکز (Albany Medical Center) په سیمه کې یوازینی روغتیایي مرکز دی چې د لویانو او ماشومانو لپاره د ټروما د درملنې د لومړۍ کچې (Level 1) مرکزونه لري.

ALBANY MED
Health System

د قانون له مخې، که تاسو کومه طبي بېړنۍ ستونزه ولرئ یا د زېږون په حال کې یاست، **تاسو حق لرئ چې** د دې روغتون د کارکوونکو او اسانتیاوو د وړتیاوو په حدودو کې لاندې خدمتونه ترلاسه کړئ:

- مناسبه طبي معاینه.
- اړینه ثابتوونکې درملنه (د نه زېږېدلي ماشوم درملنه هم پکې شامله ده) او، که اړتیا وي:
- بلې مناسبې روغتیایي اسانتیا ته انتقال، حتی که تاسو د پیسو ورکولو توان ونه لرئ، طبي بیمه ونه لرئ، یا د Medicare یا Medicaid له پروګرامونو څخه د ګټې اخیستنې حق ونه لرئ.

مورِ د Medicaid پروګرام کې ګډون کوو.

ALBANY MED
Health System

مهرباني وکړئ زمونږ د ظاهري بڼې له امله مو وبښئ.
د بیړنیو روغتیایي خدمتونو څانګه د بیارغونې په حال کې
ده، څو د ناروغانو روغتیایي پاملرنه لا نښه او د ناروغانو
تجربه لا غوره شي.

ALBANY MED
Health System

Albany Medical Center د سيمې د لويانو او
ماشومانو ناروغانو لپاره **يوازيني د لومړۍ (1)**
کچې ټراما مرکزونه لري.

دا په دې معنا ده چې زمونږ ناروغان پرمختللې او تخصصي
پاملرنې ته لاسرسی لري، او د جدي پاملرنې او ټراما جراحان
24 ساعته، په اوونۍ کې 7 ورځې، شتون لري.

”که انتظار کول درته ستونزمن وي، څه باید وکړئ؟“

ستاسو روغتیا زمونږ تر ټولو مهم لومړیتوب دی.

مونږ تاسو هڅوو چې د پاملرنې د ترلاسه کولو لپاره پاتې شئ.

مهرباني وکړئ د روغتون له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ او هغوی ته خپلې اندېښنې ووایاست.

مونږ تل سپارښتنه کوو چې د خپلې درملنې په اړه له خپل لومړني روغتیایي پاملرنې چمتوکوونکي یا اړوند متخصص ډاکټر سره مشوره وکړئ.

مهرباني وکړئ، که د وتلو پرېکړه کوئ، مونږ خبر کړئ.


که تاسو د رګ له لارې د درملو ورکولو وسیله (IV) لرئ، باید هغه لرې شي

ALBANY MED
Health System

ALBANY MED
Health System

ستاسو لومړی انتخاب.

ALBANY MEDICAL CENTER
ALBANY MEDICAL COLLEGE
COLUMBIA MEMORIAL HEALTH
GLENS FALLS HOSPITAL
SARATOGA HOSPITAL
VISITING NURSES



څلور روغتونونه، یو د ماشومانو روغتون،
یو پوهنځی، او د لیدونکو نرسانو

ALBANY MED
Health System

زمونږ **د ناروغانو د لارښوونې کارکوونکي** ژمنه کمیسونه
اغوندي، څو تاسو یې په اسانۍ سره ومومندلای شئ!

دوی کولی شي په لاندې برخو کې مرسته وکړي:

- تاسو ته ګرمه کمپله درکول
- ستاسو د هر ډول پوښتنو په اړه مرسته کول
- تاسو د اړتیا وړ هر ډول معایناتو ته رسول
- تاسو ته د امکان تر حده د هوسایني احساس درکول

ALBANY MED
Health System

که تاسو غواړئ چې له وتلو مخکې ستاسو **نسخې په Albany Medical Center کې درته برابرې شي،** خپل د روغتیایي پاملرنې ټیم ته خبر ورکړئ.

درملتون په F Building, Floor 1 کې موقعیت لري. دا درملتون د عامو خلکو او رخصت شوو ناروغانو لپاره د نسخو د ترلاسه کولو په موخه پرانیستی دی او د نسخې پرته بېلابېل درمل هم پکې شته. د نورو معلوماتو لپاره **518-262-3263** ته زنګ ووهئ.

د دوشنبې څخه تر جمعې پورې: د سهار له 7 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې.
شنبه: د سهار له 7 بجو څخه د ماسپښین تر 3:30 بجو پورې.
یکشنبه: بند دی



ALBANY MED
Health System

مورږ ډېر ویاړو چې تاسو
او ستاسو کورنۍ ته هغه
وخت چې تر ټولو ډېره
اړتیا ورته لرئ، **د بېړنۍ
پاملرنې تخصصي
خدمتونه،** وړاندې کوو.

ALBANY MED
Health System

د ګرځنده تلیفون کارول

ستاسو او د نورو د محرمیت او خوندیتوب لپاره، د بېړنۍ ځانګې دننه ثبتول منع دي.

تاسو کولی شئ په بېړنۍ ځانګه کې خپل تلیفون وکاروئ. که تاسو اړتیا لرئ
خپل تلیفون چارج کړئ، د تلیفون د چارج کولو ځای شتون لري.

په ځینو سیمو کې د ګرځنده تلیفون کارول منع کېدای شي.
کله چې خپل ګرځنده تلیفون کاروئ، مهرباني وکړئ د خپل شاوخوا خلکو درناوی وکړئ.

ALBANY MED
Health System

ليدونکي

زمورږ د بيړنيو روغتيايي خدمتونو په څانګه کې د پاملرنې پر مهال، ښايي ستاسو د بستر تر څنګ دوه د ملاتړ کسان درسره وي.

که تاسو د دهلېز پر بستر يا په ځينو نورو برخو کې ياست، د ځای د محدوديت له امله ښايي يوازې يو ملاتړي کس ته اجازه وي.

د معايناتو، پروسيجرونو او د ناروغ او د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکي ترمنځ د محرمې خبرو پر مهال، له ملاتړو کسانو څخه کېدای شي وغوښتل شي چې د انتظار خونې ته بېرته لاړ شي.

که تاسو روغتون کې بستر شئ يا د بېړنۍ څانګې د څارنې واحد ته راجع شئ، ښايي نورې لارښوونې پلي شي.

ALBANY MED
Health System

مرستې یا لارې موندلو ته اړتیا لرئ؟

تشناب یا کمپله لټوئ؟

زمونږ د ناروغانو د لارښوونې کارکوونکي ستاسو د مرستې لپاره دلته دي. یوازې د **ژبې کمیس په لټه کې شئ.**



ALBANY MED
Health System

د موټرو تمځای

د Myrtle Avenue له لارې د بیړنیو روغتیایي خدمتونو څانګې د مراجعینو د ننوتلو په دروازه کې د ناروغانو لپاره وړیا د موټر د پارکولو خدمت شته. د بیړنیو روغتیایي خدمتونو څانګې د ناروغانو لپاره په 405 Myrtle Avenue Garage کې هم د موټر د پارک کولو ځای شته.

د موټر د پارک کولو خدمتونه شتون لري:

د لویانو بیړنۍ څانګه
(Adult Emergency Department)
د دوشنبې څخه تر جمعې پورې: د سهار له 6 بجو څخه د شپې تر 2 بجو پورې.
شنبه او یکشنبه: د سهار له 8 بجو څخه د شپې تر 10 بجو پورې.

د ماشومانو بیړنۍ څانګه
(Pediatric Emergency Department)
د دوشنبې څخه تر جمعې پورې: د سهار 6 بجو څخه تر نیمې شپې پورې.
شنبه او یکشنبه: د سهار 8 بجو څخه تر نیمې شپې پورې.

ALBANY MED
Health System

EmUrgentCare®
ALBANY MED Health System

د **Albany Med Health System** روغتیایي سیستم د هر عمر ناروغانو لپاره د بېړنیو روغتیایي پاملرنې حضوري خدمتونه، پرته له مخکښې وخت څخه، او د ټاکل شوي وخت له مخې وړاندې کوي، او همدارنګه د ټیلی روغتیا له لارې د ملاقاتونو خدمتونه هم لري.

مور ویاړو چې د ناروغانو درملنه چټکه او په مسلکي ډول کوو او د انتظار وخت تر ممکن حد کموو.

Albany Med

EmUrgentCare

مرکزونه د کال 365
ورځې، د سهار له 9 بجو
څخه د شپې تر 9 بجو
پورې پرانیستي وي.

**دا مرکزونه د غیر بېړنۍ پاملرنې
خدمتونه پرته له مخکښې وخت
څخه وړاندې کوي.**



ALBANY MED
Health System

د ځایونو او کاري ساعتونو لپاره، مهرباني وکړئ
albanymed.org/urgent-care ته مراجعه وکړئ.

ALBANY MED
Health System

ستاسو رواني روغتيا مهمه ده.

تاسو چې له هر ډول ستونزې سره مخ ياست، اړ نه ياست چې يوازې ورسره مقابله وکړئ.

aptihealth د انلاين رواني روغتيا پاملرنه وړاندې کوي—
چې د ډېرو بيمه يي پلانونو له خوا پوښل کېږي.

د فشار، اضطراب، خپګان، د نشه‌يي توکو د استعمال او
نورو ستونزو لپاره مرسته ترلاسه کړئ.



aptihealth®

د **518-769-5476** شمېرې ته زنګ ووهئ يا پيغام واستوئ، څو زمور له ځای پر ځای شوي
د پاملرنې له لارښود سره خبرې وکړئ، يا **aptihealth.com/amc** ته مراجعه وکړئ.

ALBANY MED
Health System

trauma survivors network
provided by ATS
survive. connect. rebuild.

د Albany Medical Center **د ټراما ژغورل شویو کسانو شبکې (Trauma Survivors Network, TSN)** برخه ده. که ستاسو کوم عزیز له ټراما سره مخ شوی وي، مهرباني وکړئ د هغوی د پاملرنې له پلې څخه وغواړئ چې تاسو د TSN له همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسي. سرچینې شتون لري.

ALBANY MED
Health System

د عبادت ځای او معنوي پاملرنه

Dr. Alfonso J. Marcelle Chapel هره ورځ 24 ساعته پرانیستې او د لاسرسي وړ ده.

دا د B Building په نیمه ځمکنۍ پوړ کې موقعیت لري.

معنوي پاملرنه هم هره ورځ 24 ساعته، پرته له دې چې ستاسو مذهبي عقیده څه وي، شتون لري.

د نورو معلوماتو لپاره له **518-262-3176** شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا د کارکوونکو له یوه غړي څخه پوښتنه وکړئ.

MyChart ته نوم لیکنه وکړئ.

خپل ټول روغتیایي معلومات په یوه ځای کې ترلاسه کړئ.

په روغتون کې د پاتې کېدو پر مهال د خپلې روغتیایي پاملرنې په برخه کې لا ډېر ګډون وکړئ.

له خپل ډاکټر سره هر ځای چې یاست، اړیکه ونیسئ.

خپلې نسخې بیا واخلئ او خپل مالي چارې اسانه کړئ.



ALBANY MED Health System

نور معلومات ترلاسه کړئ او په
mychart.albanymed.org کې نوم لیکنه وکړئ.